د افغانستان اســـلامي امارت

د لـــوړو زده کړو وزارت

د پکـتـیـــکا پوهنتون

د علمي او محصلانو چارو معاونیت

د نظـم، ډیسپلین او سپورټ عمومي کمېټه

# د محصلانو د اخلاقي اصولو پالیسي

کال :............................................................ ۱۴۰۴ هـ. ش

لړلیک-:

- سریزه
- د پالیسی موخې
- داخلاقي اصولو پالیسی
- د علمي او محصلانو چارو معاونیت تعهد او ژمنتیا
- د محصلانو تعهد او ژمنتیا
- اړوند احکام

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## سریزه

پوهنتون هغه چاپېریال دی چې په هغه کې ډېر شمېر استادان، محصلان، اداري او خدماتي کارکوونکي ټولنې ته د خدمتونو په وړاندې کولو مشغول دي. په داسې یوه چاپېریال کې چې زرګونه کسان شتون ولري او په خپلو کاري ساحو کې دندې ترسره کوي، له شک پرته د قوانینو، مقرراتو، لایحو او د رسمي طرزالعملونو ترڅنګ اخلاقي اصولو ته چې له اسلامي، ملي او اکاډمیکو قوانینو او ارزښتونو څخه یې الهام اخیستی وي، ډېره اړتیا لیدل کیږي. په وروستیو کلونو کې د محصلانو او کارکوونکو کمی ډېرښت او په ټولنیز چاپېریال کې بیړنی بدلون ددې سبب شو چې پخواني جوړ شوي قوانین ټولو مسایلو ته ځواب ونه ویلای شي. په داسې حالت کې اخلاقي لارښود کولای شي چې په عملي ډول په ښوونیز چاپېریال کې د رامنځ ته کېدونکو ستونزو لپاره ګټور ثابت شي.

ښوونیز مرکزونه په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو مرکزونه هغه ځایونه دي چې هلته د راتلونکو نسلونو لپاره اشخاص روزل کیږي او په مختلفو ټولنو کې له ځانګړي مقام څخه برخمن دي، له دې امله ددې لوړ مقام په درلودلو سره تل په دینې، کلتوري او اخلاقي اړخونو کې د پوهانو او نظر خاوندانو د پاملرنې وړ ګرځي.

بناءً، د نظم او دیسپلین کمېټې د اخلاقي اصولو پالیسي شتون یوه اړینه اړتیا وبلله، تر څو له دې لارې وکولای شي د اخلاقي او رفتاري اصولو په رعایت سره د اخلاقي معیارونو په ښودنې سره یو غوره اکاډمیک چاپېریال رامنځ ته کړي. د اخلاقي اصولو دا پالیسي د اخلاقي موازینو او اصولو په اساس د پوهنتون د ټولو محصلانو لپاره د نظم او دیسپلین کمېټې له لوري ترتیب او تنظیم شوې ده .

## د پالیسی مبناء ( بنسټ )

دا پالیسي د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې د پروګرامونو او معیارونو له مخې ترتیب شوې ده.

## موخې

1. د شفافیت عامول
2. انصاف

3. صداقت او امانتداري
4. د حقه حقوقو او خصوصي حريم ساتنه
5. د عهد او پيمان په وړاندې ژمنتيا او وفاداري
6. له وړتيا، استعداد او فضليت څخه ستاينه
7. يو بل ته احترام او ارزښت ورکول
8. نقد منل او ګډ کار کول
9. له واسطو او قوم بازيو څخه مخنيوی
10. د هر ډول فساد له منځه وړل

د علمي او محصلانو چارو معاونيت
معاونيت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## د اخلاقي اصولو پاليسي تعريف

اخلاقي پاليسي د هرې ټولنې د کلتوري، ټولنيزو او سياسي شرايطو سره توپير کوي او اغېزې يې هم متفاوتې وي، خو په عام ډول د اخلاقي اصولو او رفتاري معيارونو بيانيې ته د اخلاقي اصولو پاليسي ويل کيږي.

## لومړۍ برخه

### د علمي او محصلانو چارو معاونيت تعهد او ژمنتيا

محصلان تر ټولو ارزښت لرونکې ملي سرمايه ده چې په ټولنه کې د پوهنتون د مقام په ټاکنه کې اغېز لرونکې ونډه لري. زموږ موخه دا ده چې محصلانو ته د غوره ښوونيز چاپېريال په رامنځ ته کولو سره خپلې ټولنې ته وړ اشخاص ورزو او له دې لارې ټولنيزې ستونزې او مسايل حل کړو. دې لوېې موخې ته د رسيدلو لپاره موږ د محصلانو په وړاندې لاندې اخلاقي مسؤليتونه په غاړه لرو:

1. د محصلانو احترام او د هغوی انساني حقوق ساتل او رعايتول؛
2. په تحصيلي پروګرامونو کې د عملي او نظري زده کړو لپاره د زمينې (شرايطو) برابرول؛
3. د ښوونيز سيستم په ښه والي کې د محصلانو له وړانديزونو څخه ګټه اخيستنه؛
4. جديدالشموله (نوي شامل شوي) محصلانو لپاره له اکادميک چاپېريال سره د پېژندګلوي پروګرامونو په لاره اچول؛
5. محصلانو ته د قوانينو، مقرراتو، لايحو او نورو موضوعاتو په اړه شفاف او بشپړ معلومات ورکول؛
6. د محصلانو د روغتيا، رواني او فزيکي مصؤنيت لپاره د ورزشي او تفريحي پروګرامونو په لاره اچول؛
7. محصلانو پورې اړوند اداري چارو کې مرسته او ملاتړ کول؛
8. د محصلانو فکري او معنوي ملاتړ او ګټورې مشورې ورکول؛
9. د محصلانو پر ځان باور او مثبت تفکر د پياوړتيا لپاره هڅې کول؛
10. د محصلينو تعميری نيوکو منل او د هغې پر اساس پرېکړو کې محصلانو ته ونډه ورکول؛
11. د محصلانو تر منځ د نظم، قانون منلو او د ټولنيز مسؤليت کلتور رواجول؛

12.د محصلانو ترمنځ د فرصتونو او امکاناتو عادلانه توضیع او په دې برخه کې د ضوابطو په پام کې نیول؛
13.په ټولنیزو فعالیتونو کې د محصلانو د ګډون زمینه ایجادول؛
14.د اړوند تقنیني اسنادو په اساس د محصلانو د ادبي، کلتوري او علمي انجمنونو له تأسیس څخه ملاتړ کول او په دې لاره کې له هر ډول لاس وهنې پرته د هغوئ هڅول؛
15.د پنځوونکو، نوښتګرو او څېړونکو محصلانو د پېژندنې په پار د برنامو په لاره اچول او اړوند مراجعو ته د هغوئ وریپژندل.

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## دوهمه برخه

## د محصلانو ژمنتیا او تعهد

له ګرانو محصلانو هیله کیږي هغه موارد چې په اخلاقي اصولو کې شامليږي، په پام کې ولري، د اسلامي او افغاني کلتور په رعایت سره د پوهنځي په چاپېریال کې حضور پیدا کړي:

1. د اسلام سپیڅلو اساساتو او شعایرو ته درناوی او ژمنتیا درلودل؛
2. اړونده قوانینو، مقرراتو، لایحو، مصوباتو او طرزالعملونو د احکامو رعایت کول؛
3. استادانو او د پوهنځي ټولو منسوبینو ته درناوې کول؛
4. د پوهنځي محصلانو ته متقابل احترام کول او له ټولګیوالو سره غوره او اکاډمیکو اړیکو نیول؛
5. په درسي پروګرامونو کې فعال ګډون کول؛
6. اکاډمیک چاپېریال کې د نظم او ډیسپلین رعایت کول؛
7. د پوهنتون او پوهنځي له تعمیراتو، وسایلو او نورو اسانتیاوو څخه مسؤلانه ګټه اخیستل؛
8. په اکاډمیک چاپېریال کې له هر ډول شخصي تعرض، جنسي ځورونې، عامه ملکیتونو ته زیان رسولو او علمي، ټولنیزو او کلتوري پروګرامونو له اخلالولو څخه ځان ساتنه؛
9. په نورو باندې د هر ډول فشار، تهدید او یا هره کړنه چې په اکاډمیک چاپېریال کې نور په فزیکي، رواني او د شخصي آمنیت له مخې په خطر کې اچوي، جداً پرهېز کول؛
10.د مخدره توکو، الکولي مشروباتو او یا هر ډول نشه يي او خطرناکو توکو له اخیستلو، پلورلو او یا حمل او نقل څخه پرهېز کول؛
11. د هر ډول وسلې، انفجاري توکو یا هر هغه څه چې له هغې څخه د وسلې په توګه کار اخیستل کېږي او یا هر هغه خطرناک توکي چې په قانوني ډول منع وي، له اخیستلو، پلورلو، حمل او نقل څخه په کلکه ځان ساتل؛
12. د پوهنتون او لیلیې په چاپېریال کې له غیر قانوني لوبو او قمار څخه لرې والی؛
13.د آمنیتي مسؤلینو د لارښوونو په وړاندې له سرغړونو او د پوهنتون د چاپېریال په ممنوعه ساحو کې د نقلیه وسایلو له ګرځولو او درولو څخه ځان ساتل؛
14.ادبي غلا نه کول، لکه: د کورنیو دندو، مقالو، مونوګرافونو او سمینارونو په جوړولو او ترتیبولو کې د نورو لیکوالانو او څېړونکو اثار په خپل نوم کول؛

15. په علمي څېړنو او د اکاډميکو دندو په اجرا کې د غير کره معلوماتو، احصائيو او ناسمو څېړنيزو پايلو څخه ګټه نه اخيستل؛
16. د اسنادو د جعل او تزوير او يا د پوهنتون له اسنادو څخه له اجازې پرته ګټه اخيستلو څخه ځان ساتل؛
17. د پوهنتون يا پوهنځي د محرمو اسنادو او مدارکو څخه د ګټې اخيستنې لپاره د غير قانوني کمپيوټري او برېښنايي وسايلو څخه ګټه نه اخيستل؛
18. د بل شخص پر ځای په ازموينو کې له ګډون کولو څخه جداً ځان ساتل؛
19. د پوهنتون په محيط کې په مناسب ډول راځرګندېدل او د اسلامي ټولنې او افغاني کلتور سره په ټکر کې د لباسونو د اغوستلو څخه جداً ځان ساتنه.

## متفرقه احکام

### ځارنه

د علمي او محصلانو چارو معاونيت، اړونده امريتونه او د محصلانو د نظم او ډيسپلين کمېټه د پوهنتون په سطحه د اخلاقي اصولو د رعايت او نه رعايت په اړه ځارنه او نظارت کوي، معلومات به راټولوي او خپل معلومات به د علمي او محصلانو چارو معاونيت او د پوهنتون رياست سره شريکوي.

### څېړنه

د علمي او محصلانو چارو معاونيت اړوند مسولين او د نظم او ډيسپلين غړي به معلومات په دقيق او کره توګه تر څېړنې لاندې نيسي، د عدل او مساواتو د اصل په پام کې نيولو سره د موضوعاتو په تړاو د قوانينو، لوايحو، مقرراتو او اصولو په رڼا کې اړينې پرېکړې نيسي او عملي کوي به يې.

### ددې پالیسی نقض کول

ددې پاليسی د هر ډول مواردو په نقض او تر پښو لاندې کوونکي سره قانوني کړنې ترسره کيږي

### پالیسی ته لاس رسی

دا پالیسي به په هارډ شکل او همداشان په سافټ شکل وروسته د پوهنتون د علمی شورا له تائيد څخه محصلينو ته په واک کی ورکړل شي.

د علمي او محصلانو چارو معاونيت
معاونيت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

منظوري:

يا ده پالیسي د نظم، دیسپلین او سپورت کمېټې په (۳) ګڼه او ۱۴۰۴/۰۳/۲۰ نېټې پرېکړه کې تائید شوې ده.

ترتیب کوونکي:

پوهنیار میاخان محمدي

تائید کوونکی

پوهنمل محمد یوسف واحدیار

د علمي او محصلانو چارو مرستیال

دا پالیسي د پوهنتون د علمي شورا د ( ۴ ) پروتوکول او (۱۴۰۴/۴/۳) نېټې پرېکړه کې تائید شوې ده.

مولوی محمدداود آغا الهاشمي

د پکتیکا پوهنتون رئیس